# د علي خان په کلام د رحمان بابا اثر
# Impact of Rehman Baba on Poetry of Ali Khan

Shahab Aziz Arman, Saleem Ur Rehman

**Abstract**

Rahman Baba the versatile Pashto Classic poet known as the poet of humanity has left deep impact not only on the poets of modern age but also on the poets of his time as well. Same is the case with the Indian style poet Ali Khan. The artistic and subjective impact of the poetry of Rahman Baba is clearly seen in the poetry of Ali Khan. This research paper attempts a comparative study between their poetries. Furthermore, it declares Ali Khan as one of the followers of Rahman Baba. But it should also be very clear that he followed Rahman Baba to some extent, not completely.

د رحمان بابا او علي خان د قام، قبيلې، وطن او زمانې د بحث نه راتېرېدل د موضوع تقاضه ده. دغه ځان له خبرې دي چې پښتو ادب کښې پرې اوږدې تحريري او تقريري مناظرې شته. ډېرې خبرې په دغه اړه رڼا ته شوې هم دي ځکه نو د رسمي تمهيد په توګه دغه خبرو نه ګام پورته کوو او اصل موضوع پله راځو.

رحمان بابا او علي خان دواړه د پښتو ياد، نامور او صاحب طرز کلاسکي شاعران دي. علي خان ادب کښې د حميد بابا د سبکِ هندي پيروکار دے ځکه دا خبره به عجيبه شان لګي چې د رحمان بابا اثر به په علي خان څنګه وي؟ هر کله چې رحمان بابا د پښتو ادب د اسمان ځلنده نمر، د عالمي کلاسيکي ادب نمائنده، د افاقي قدرونو او موضوعاتو او دغه شان د ژوند، د تحريک او د عمل شاعر دے نو د هغهٔ د زمانې نه تر اوسه لوے، واړهٔ شاعران د هغهٔ نه متاثره کېدل فطري امر دے. باوجود د ډېر کوشش هم د رحمان بابا د شاعرئ د اثر نه مشکله ده چې تر دې دمه کوم شاعر بچ پاتې شوے وي.

د اسلافو رنګ کښې رنګ کېدل او د خپلو ادبي اتلانو په لار تلل د وخت تقاضه او اعلیٰ ظرفي ده خو د تاثر، توارد، تضمين او طرحې اصول ادب کښې شته. دغه اصول پکارول لازم دي.

د نن سبا زمانې د پښتو ادب په شان پخوا هم شاعرانو د يو بل نه تاثر اخيستو خو د هغه وخت خپلې تقاضې وې. ادبي روئې او ادبي نفسيات د دې وخت نه لږ بدل وو. چا به د تضمين، طرحې او تاثر په ضمن کښې د مذکوره شاعر يا د هغهٔ د تضمين شده کلام حواله، نخښه نښانه ورکولو ته وقعت ورکولو او چا نه. بهر حال د دې محرکات، وجوهات او برامدات ځان له اوږد بحث دے.

د رحمان بابا د فکر علويت، د کلام متانت او همه گيريت، د لفظونو رعايت، د خيال عالمگيريت،د شاعرانه طرزِ فکر بلوغت،د هغهٔ په کلام کښې روحانيت او د وارداتِ قلبي شامل ديانت او کېفيت، د هغهٔ فني پختگي، د کلام تناسب او موزونيت، د هغهٔ سخن سازي، فنکاري او هنر مندي دومره مثالي او کوټلي ده چې د خپل وخت صاحبِ طرز شاعران ئې هم د اثر نه بچ نهٔ دي پاتې شوي . په کلاسيکي شاعرانو د رحمان بابا اثر ځان له اوږده موضوع ده خو مونږ دلته محض د علي خان او رحمان بابا د کلام د فني او فکري اړخونو تقابل په داسې انداز کوو چې د رحمان بابا د کلام اثر د علي خان په کلام په دلائلو سره ثابت کړے شي.

علي خان د رحمان بابا د طرز، ژبې او اندازِ بيان نه چې کوم اثر قبول کړے دے، هغه هر څو که د علي خان غزل کښې ځاے په ځاے جوت دے خو بيا هم فني باريکات نظر کښې ساتل او د هغې تجزيه کول پراخ مېدان غواړي. د مکتب په لحاظ علي خان د حميد بابا پېرو کار دے خو د ژبې او طرزِ ادا له رويه ئې کلام د رحمان بابا شاعرئ ته ورته والے لري. علي خان د حميد بابا د مشکل پسندئ په ځاے د رحمان بابا سادگئ اواسانئ نه متاثره شوے دے.

رحمان بابا ډېر په ساده انداز کښې د فطرت او کائنات حسين اجزاء راخلي او د محبوب د حُسن په وړاندې ئې خس و خاشاک کوي. حالانکې هم دغه اجزاء د شاعرئ د معلوم تاريخ نه د محبوب د حُسن په اثبات کښې د استعارو، کنايو او تشبيهاتو په شکل کښې په کارولے کېږي. دا اثر به د دنيا د نورو ژبو شاعرانو کښې هم وي. پښتو ادب کښې هم ممکنه ده چې وي خو رحمان بابا چې په کښې کوم ذوق، طرز او زړهٔ راښکون پېدا کړے دے، هغه رجحان ساز گرځېدلے دے:

د نمر مخ چې ستا له مخه نهٔ شرمېږي
ترو دا رنګ ئې ولې زېړ زرغون ښکارېږي
دا سپوږمئ چې نهٔ ئې سر شته نهٔ ئې پښې شته
په کوم حُسن به له تاسره سمېږي
مخ دې اور خط دې سبزه ده زهٔ حېران يم
چې سبزه په اور کښې څنګه زرغونېږي

سپوږمۍ هم دا هسې تاؤ خوري ستا له مخه
چې په هره میاشت کښې دوه دوه نیمه کېږي
لکه لوند زړوکے تاؤ کړې نو ئې اووځي
ستا له غمه مې رنګ زیړ پوست مې وچېږي
که قامت دې څوک شمشاد بولي غلط دے
د لرګیو په نرخ سپین زر نۀ یافتېږي
و دندانو ته دې دُر وئیلے نۀ شم
کاڼي کله د برېښنا په دود ځلېږي
باریک خط ئې زلفو لاندې کړ رحمانه!
مورچه ګان د شپې له مخه پائمالېږي[1]

د رحمان بابا د فکروفن دا نمائنده غزل علي خان هم په دې طرز او زمکه خپل کړے دے. څۀ شعرونه ئې هم د رحمان بابا د فکر نه مستعار دي او څۀ ئې پرې خپله ډېره ښۀ طبع ازمائیلې ده. دغه غزل کښې د نورو حوالو سره سره د رحمان بابا د انداز او ژبې اثر هم په علي خان د نمر په شان ښکاره دے. د علي خان غزل څۀ په دې ډول دے:

د نمر په مخ چې دې تر مخه ډېر شرمېږي
ځکه هره ورځ په غرونو کښې پټېږي
سپوږمۍ شپول تر ځان چاپېره کړو صنمه
چې د حُسن له تاراجه دې ویرېږي
لکه لوند زړوکے راکاږې په غنه
ستا له هجره مې زړۀ هسې رنګ شوکېږي
مخ ئې اور زلفې ئې ځکه پرې تاؤ تاؤ شوې
چې وېښتۀ و اور ته نیسي خو تاؤېږي
خط ئې وار د زلفو تېر کۀ علي خانه!
کله مار د مېږتون سره چلېږي[2]

د علي خان دا غزل بېخي د رحمان بابا په غزل تضمین یا طرحي کلام ښکاري. د شاعر انسانیت اصطلاحات او ترکیبات چېرته په مناسب او چېرته د فکر اختلاف سره په کارول د دې غزل اهمه خاصه ده.
هم دې تسلسل کښې که اوګورو نو د رحمان بابا یو بل اهم غزل دے چې علي خان ترې د وزن، بحر، ردیف، قافیې، غرض پوره پوره فني استفاده کړې ده. د غزل مرکزه چونکې

روح دے ځکه نو د دواړو شاعرانو فکري هم اهنګي هم فطري خبره ده. دلته د رحمان بابا د غزل محض مطلع او مقطعه ذکر کولے شي:

ستا وصال دے رابخښلے زما روح
ستا هجران دے رانیولے زما روح
زهٔ رحمان له خپله ځانه خبر نهٔ یم
چې په څهٔ رنګ دې اوکښلے زما روح[3]

اوس د علي خان د غزل مطلع او مقطع ملاحظه کړئ:

چې کالبُد له دے راغلے زما روح
اور د مینې دے راغلے زما روح
نهٔ دے تن د علي خان چې په کښې اوسي
ځان له قبر دے کندلے زما روح[4]

دا هم منلے حقیقت دے چې د روح تذکره د پښتو نه سېوا فارسي شاعرۍ کښې هم شته خو مذکوره کلام کښې د علي خان اسلوب د رحمان بابا اسلوب ته ډېر ورته والے لري ځکه نو د هغهٔ ژور اثر په علي خان څرګند دے.
هم دې تسلسل کښې چې اوګورو نو د رحمان بابا یو بل مشهور، د موسیقیت او غنائیت نه ډک غزل مخې ته راشي چې :

عاشقان دې په اور سوي دي که نهٔ دي
ستا د عشق په اور لوي دي که نهٔ دي
ناصحان چې نصیحت و ماته وائي
چرې دوي هم مئین شوي دي که نهٔ دي
ښائسته که په ښائست کښې ملائک دي
په اوکښو د زړونو روي دي که نهٔ دي
بلبلان پسې نارې وهي رحمانه!
د بهار ګلونه نوي دي که نهٔ دي[5]

هم دا زمکه علي خان داسې په کارولې ده چې د فن سره سره پرې د رحمان بابا د فکر او ژبې اثر هم جوت دے:

ستا د مخ ګلونه نوي دي که نهٔ دي
بلبلان ئې سینه سوي دي که نهٔ دي

په بهانه بهانه مې وينې د زړۀ روي
دواړه سرۀ کسي دې روي دي که نۀ دي
چې دې سترګې د يار سرې شوې علي خانه
ستا په خون ګواهي لوي دي که نۀ دي[6]

د دغه فني تاثر نه سېوا په علي خان د رحمان بابا فکري تاثر هم څرګند دے. هر څو که اخلاقيات يوه عالمګيره موضوع او بيا خصوصاً د مشرقي شاعرۍ خاصه ده خو په دې اړه هم د رحمان بابا ځانګړنې منلې شوې دي او دغه ځانګړنې چې چا هم خپلې کړې دي، اثر ئې لوستونکو ته څرګند دے. دې ضمن کښې د عشق و حسن د موضوعاتو تذکره هم امکان لري. د رحمان بابا په شاعرۍ کښې لږ ګونه قنوطنيت هم محسوسېږي خصوصاً د عشقِ مجازي په حواله او دغه قنوطيت د علي خان کلام کښې په لويه پيمانه څرګند دے.

په علي خان د رحمان بابا د اثر په اړه عقاب خټک ليکي:

" د رحمان بابا او دعلي خان خټک [1] د ديوانونو د غائرې مطالعې نه ماته داسې اوښکارېده چې شايد چې د رحمان بابا داسې لفظ يا مضمون وي چې علي خان نۀ وي خپل کړے او په دې وجه د دواړو شاعرانو ژبه يو شانتې ښکاري او سړے په دې مغالطه کښې پرېوځي چې هم دغه به د پيښور او د هشتنغر د هغه وخت ژبه وي"[2]

د مرحوم عقاب خټک پورته اقتباس دې خبرې سره اتفاق ممکن دے چې د رحمان بابا د ژبې اثر په علي خان ښکاره شوے دے. دې نه انکار امکان نۀ لري خو د اقتباس دا حصه چې ګوندې علي خان د رحمان بابا هر لفظ او مضمون خپل کړے دے، ډېره شديده ده او حق بجانب ئې نۀ شو ګڼلے ولې چې علي خان صاحبِ طرز کلاسيکي شاعر دے. د هغۀ خپل مضامين او خواږۀ غزلونه د هغۀ د فکر و فن هنداره ده چې د هغۀ د فني او فکري ځانګړتيا غمازي کوي. هن دا خبره بالکل درسته ده چې د رحمان بابا د فکروفن د اثر نه د علي خان په شان ستر شاعر هم ځان ژغورنې ته نۀ دے ساز شوے.

د رحمان بابا يو شعر دے:

پري رويه فرښته خويه عنبر بويه
سنبل مويه لاله فامه راشه راشه[8]

علي خان په ډېر معمولي بدلون او اضافه دا شعر داسې وئيلے دے:

[1]عقاب خټک صيب په دې نظريه وۀ چې علي خان "خټک" دے خو په دې کښې ورسره اتفاق ګران دے. ولې چې علي خان اشنغرے دے. دا خبره اوس روښانه ده.
[2]دا اقتباس د ښاغلي ډاکټر محمد زبېر حسرت د کتاب په حواله رانقل کړے شو.ا وګورئ[7]

پري رويه سنبل مويه عنبر بويه
ملک خويه ډېره لويه هرمنده[9]

علي خان هم د دغه مذکوره شعر نه الهام او تاثر اخيستے دے او دغه د زيرِ نظر شعر د غزل ډېرو شعرونو ته ئې هم دغه د فارسي اصطلاحاتو رنګ ورکړے دے. دا اَثر د رحمان بابا او علي خان دواړو نه وړاندې د خوشحال بابا غزل کښې ښکاري چې مطلع ئې داسې ده:

د جهان په مخ به نۀ وي هسې تا غوندې دلبره
پري رويه عنبر بويه سنبل مويه سمن بره[10]

د بحث په دې وروستی برخه کښې د ځينې هغه شعرونو څو نمونې وړاندې کولې شي چې د رحمان بابا د شعر نه علي خان په فکري او د مضمون په حواله داسې استفاده کړې ده چې چېرته چېرته ئې هم هغه الفاظ لږ بدل کړي را بدل کړي دي او چېرته ئې د مضمون پېروي کړې ده:

رحمان بابا:

که له ډېره غمه دم دچا ختے
زۀ به مړ ووم ستا په غم کښې پخوانے[11]

علي خان :

مرګ په حکم د حکيم دے په غم نۀ دے
ګوندې روح به مې د اه سره سم وخوت[12]

رحمان بابا:

مهرويان وفا له هيچا سره نۀ کا
دا خبره په عالم کښې ده مشهوره[13]

علي خان:

اشنائي ځۀ د منت خبره نۀ ده
دا وېنا ده په تمام جهان مشهوره[14]

رحمان بابا:

که څوک وائي چې مار کله په کټ خېژي
زۀ خوړلے يم په کټ د زلفو مار[15]

علي خان :

زهٔ د یار وروځو جبین وته حېران یم
چې په تخت د پاسه څهٔ رنګ لړم وخوت[16]

رحمان بابا:

لکه وورکي کټوري غواړي له زانو
په دا هسې پوچ ګوبې ئې اعتبار شي[17]

علي خان :

چې اُمید دې د وفا کېږي له دهره
دا له زانو کټورے غواړي موهومه[18]

رحمان بابا:

تهٔ چې له ما ځې زما د اوښکو باران ګوره
رخ د سفر هېڅ نهٔ دے په دا ګڼو شپېو کښې[19]

علي خان :

اودرېږه چې اودرېږي باران زما د اوښکو
مه ځه چې مې نهٔ ځي رود د اوښکو له بصره[20]

د رحمان بابا د مذکوره شعر نه حمزه بابا هم استفاده کړې ده. هم دغه تلازمه او تناسب ئې لږ په اسان انداز داسې وئیلي دي:

ګوره سترګې مې چې ډکې ډکې کېږي
نوم د تګ په خولهٔ وا نهٔ خلې باران راغے[21]

هم دا تلازمه د دې دور ستر ادبي شخصیت همېش خلیل داسې په کارولې ده:

لا مې اوښکې اسوېلي په زور وشور دي
مه ځه لاړ شه بیا چې تم بادو باران شي[22]

رحمان بابا:

هر چې ما په نصيحت له تا جار باسي
بيا د ستا په لوري درومي له ما وړاندې[23]

علي خان:

ډېر دي چې و ماته نصيحت کاندي د ورځې
شپې ته ئې ولاړ د يار په کوڅې اووينم زۀ[24]

رحمان بابا:

خاورې د ادم چې خمير کړې فرښتګانو
درست ئې په غمونو په دردونو ولاړۀ [25]

علي خان :

ختې د عاشق چې لا اخښلې ملائکو
غم ئې لکه بوس هسې ورګډ کۀ په خمبير کښې[26]

هم په دې مضمون د علي خان دا مطلع هم ده:

فرشتو چې مې صورت سره مښو
لا هله ئې په غمونو کښې اښو[27]

د پورته ذکر شوؤ شعرونو نه سېوا هم يو شمېر شعرونه عقاب خټک صېب راټول کړي دي او په علي خان ئې د رحمان بابا د اثر په اثبات کښې وړاندې کړي دي خو هغې کښې زياتره شعرونه مذکوره موضوع سره سمون نۀ خوري. په هغه شعرونو هېڅ اثر نۀ شته خو مرحوم عقاب خټک ته ترې شايد چې مغالطه شوې وي. دغه انتخاب ډاکټر زبېر حسرت د عقاب خټک په حواله ذکر کړے دے. [28]

## ۱ نتيجه

د ترديد د ويرې نه بغېر وئيل کېدے شي چې علي خان په فني او فکري توګه د رحمان بابا نه خوشه چيني کړې ده. د عالمي کلاسيکي ادب د نمائنده شاعر، شاعرِ انسانيت او د خپلو اسلافو نه استفاده د يو شاعر د عظمت دليل دے. علي خان صاحبِ طرز شاعر دے. پښتو ادب کښې د هغۀ يو ځان له او اعلیٰ مقام دے. هغۀ په جزوي توګه د رحمان بابا د مکتب

پیروي کړې ده. کلي طور هغه د دې مکتب غړے نۀ شي ګڼل کېدے. یو امر حېرت انګېز او افسوسناک ضرور دے او هغه دا چې د دومره فني او فکري استفادې باوجود علي خان خپل کلام کښې د رحمان بابا ذکر نۀ دے کړے.

رحمان بابا همه ګیر، عالمګیر، افاقي او هر دلعزیز شاعر دے. دافاقي، مقبول او هر دلعزیز شاعر اثر په نورو شاعرانو راتلل فطري عمل دے او هم دا معامله علي خان سره هم شوې ده. بلکې په دې بابله د علي خان زیاتره استفاده شعوري ده. له دې زاوئې چې ګورو نو د رحمان بابا د شعر رنګ او اهنګ د علي خان په شعر کښې لیدے او محسوسېدے شي.

# حوالې


[۱] د رحمان بابا کلیات (محکمه ثقافت صوبه سرحد) ۱۹۹۰ء، مخ ۲٦٦- ۲٦۷.

[۲] دیوان علي خان ( شرح او مقدمه: پروفېسر سید محمد تقویم الحق کاکاخېل)، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، دوېم چاپ، ۱۹۸۸ء، مخ ۱٦۵، ۱٦٦.

[۳] د رحمان بابا کلیات، مخ ۷۳، ۷٤.

[٤] دیوانِ علي خان، مخ ۵٦ - ۵۸.

[۵] د رحمان بابا کلیات، مخ ۲۷۹ – ۲۸۰.

[٦] دیوانِ علي خان، مخ ۱٦۰.

[۷] حسرت، پروفېسر، زبېر، ډاکټر: د رحمان بابا فکري مکتب، پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون چارسده، اول چاپ اګست ۲۰۱۳ء، مخ ۱۱۹- ۱۲۰.

[۸] د رحمان بابا کلیات، مخ ۲۱۷.

[۹] دیوانِ علي خان، مخ ٦۱.

[۱۰] ارمغانِ خوشحال، (مقدمه: میا سید رسول رسا)، یونیورسټي بُک اېجنسي، خېبر بازار پېښور، درېم چاپ ۲۰۰۹ء، مخ ۳٦۹.

[۱۱] د رحمان بابا کلیات، مخ ۳۲۱

[۱۲] دیوانِ علي خان، مخ ٤٤

[۱۳] د رحمان بابا کلیات، مخ ۲۰٦.

[١٤] ديوانِ علي خان، مخ ٦٨.

[١٥] د رحمان بابا کليات، مخ ٩١.

[١٦] ديوانِ علي خان، مخ ٤٤.

[١٧] د رحمان بابا کليات، مخ ٢٨٦.

[١٨] ديوانِ علي خان، مخ ١٢٤

[١٩] د رحمان بابا کليات، مخ ٣٨٦

[٢٠] ديوانِ علي خان، مخ ٦٨

[٢١] شينواري ،حمزه: غزونې، د چاپ ځائے او کال نامعلوم، مخ ١٦١.

[٢٢] خليل، همېش: خاپونه او خالونه، دارالتصنيف پېښور، ١٩٩٣ء، مخ ١٠١.

[٢٣] د رحمان بابابا کليات، مخ ٣٢٤

[٢٤] ديوانِ علي خان، مخ ٧٣

[٢٥] د رحمان بابا کليات، مخ ٢٥١

[٢٦] ديوانِ علي خان، مخ ٨٧

[٢٧] هم داکتاب، مخ ١٤١

[٢٨] حسرت، پروفېسر، محمد زبېر، ډاکټر: د رحمان بابا فکري مکتب، مخ ١٢٠ نه ١٢٤ پورې .